
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د نومبر شپږمه | ۴۵۸مه ګڼه

# د اختلافاتو دوام؛

## د کمېشنرانو ترمنځ د رایو پر بیاشمېرنه اختلافات موجود دي



۳

د ټاکنو کمېسیون پرېکړې، لانجې او د وضاحت اړتیا
۲ مخ


ولسي لاریونونه؛ که د حق غوښتنې زنګونه
۲ مخ

له نورو څخه دا تمې مه کوئ!
۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### د مخ پر ودې هېوادونو سیاست




یاد کتاب پیټر برنل او ویکي رنډال لیکلی، پښتو ژباړه یې احسان الله ځیرک کړې، چې همدا پښتو بڼه یې په ۳۸۴ مخونو کې راټوله شوې ده.

## په هسکې مېنې ولسوالۍ کې د کرنې او مالدارۍ لویې پروژې پلې کېږي



د ننګرهار په هسکې مېنې ولسوالۍ کې د کرنې او مالدارۍ د پراختیا په پار اته لویې پروژې پلې کېږي.

د امنیت شورا د ریاست سلاکار سرور احمدزي په مشرۍ د ۱۴ وزارتونو مرستیالانو، د ننګرهار والي او سکټوري ادارو مشرانو د ګډې غونډې په ترڅ کې د هسکې مېنې ولسوالۍ لپاره پراختیایي پلان جوړ او د تطبیق په موخه شریک کړ.

د یادې غونډې ګډونوالو ویلي، په ۱۳۹۹ لمریز کال کې به د هسکې مېنې د جودرې، احمدخېلو، معین کس، شابیو، ګورګورۍ او پاپین سربندونه ورغول شي، چې پر مټ به یې زرګونه جریبه ځمکه خړوبه او د اوبولګولو ستونزه به حل شي.

دوی زیاتوي، د دې ترڅنګ به د کرنې ریاست اړوند د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» له لوري د چرګانو روزنې ۱۰ فارمونه، ۲۰ جریبه د مېوو بڼونه او ۱۴۰ شنې خونې هم جوړې شي، چې د کروندګرو لپاره به د اقتصادي پیاوړتیا ترڅنګ، کاري فرصتونه هم برابر شي.

## حسین خېل: افغان ځواکونه د پاکستان له لوري د هر ډول تېري ځواب ته چمتو دي

افغان پوله ساتو ځواکونو ویلي، د ډیورنډ فرضي کرښې له پورې غاړې پر افغان خاوره د پاکستاني پوځیانو هر ډول برید ته پوره چمتووالی لري.

په ختیځ کې د افغان پوله ساتو ځواکونو د لومړۍ لېوا عمومي قوماندان محمد ایوب حسین خېل د کونړ ولایت ناړۍ ولسوالۍ ته د سفر پر مهال ویلي، د ده تر قوماندې لاندې افغان ځواکونه د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه مهمو سیمو کې ځای پر ځای شوي او د ډیورنډ له پورې غاړې د پاکستاني پوځیانو هر ډول برید ته پوره چمتووالی لري.

دا په داسې حال کې ده چې د کونړ ناړۍ ولسوالۍ څو ورځې وړاندې د افغان او پاکستاني پوځیانو ترمنځ د سختو جګړو شاهده وه. که څه هم اوس د دواړو لوریو ترمنځ پر اوربند موافقه شوې، خو لا هم افغان ځواکونه لاس په ماشه د کرښې له پورې غاړې برید ته چمتو ناست دي.

حسین خېل دغه راز ویلي چې افغان امنیتي ځواکونه په دوکلام او ناړۍ ولسوالیو کې د امنیتي پوستو د جوړولو په حال کې دي او دوی به هېڅ ته پر افغان خاوره د تېري اجازه ورنه کړي. په ورته وخت کې مشرانو جرګې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستاني ځواکونو پوځي تحرکات او پراختیا غوښتنې سیاست پر وړاندې شدید عکس العمل څرګند کړی دی.

د دې جرګې غړو ویلي، پاکستاني ځواکونو د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د اغزن سیم غځولو او خندقونو له ایستلو وروسته له کرښې مخکې راغلي او اوسمهال هڅه کوي، چې حاکمې سیمې لاندې او هلته تاسیسات جوړ کړي.

## د چین په بین الافغاني ناسته کې د ګډونوالو نوملړ نهایي کېدو ته نږدې دی



۲ مخ

## ایران: در نشست صلحی که در آن نماینده حکومت افغانستان نباشد، اشتراک نمی کنیم



ایران میگوید، در هیچ یک از نشست های صلح که در آن نماینده حکومت افغانستان نباشد، اشتراک نمی کند.

به اساس گزارش رسانه های ایران، این اظهارات را سید رسول موسوی رئیس بخش جنوب آسیا و نماینده خاص وزارت امور خارجه ایران، در شورای روابط ستراتیژیکی خارجی بیان نموده است.

در کنار دیپلومات های دیگر، عبدالغفور لیوال سفیر افغانستان در ایران نیز در این نشست اشتراک داشت.

موسوی افزوده است که در نشست صلح افغانستان که در مسکو برگزار شده بود، از ایران نیز دعوت شده بود که از سوی آنها رد شد.

نماینده های چین، پاکستان، روسیه، و امریکا در نشست مسکو اشتراک ورزیده بودند، که امریکایی ها و طالبان خواهان آغاز مجدد مذاکرات بین الافغانی شدند.

موسوی افزوده است، در دو نشست صلح که در مسکو و بیجینگ برگزار شده بود، از تهران نیز دعوت شده بود؛ اما از سوی آنها رد شد.

وی گفته است: «حکومت ایران در نشست های صلح که در آن نماینده حکومت افغانستان اشتراک نداشته باشد، اشتراک نمی کند».

این مقام وزارت امور خارجه ایران، پلان حکومت امریکا را در مورد صلح افغانستان رد کرد و ادعا نمود که زلمی خلیلزاد نماینده خاص امریکا با طالبان، در جستجوی یک (نو آوری خطرناک) صلح امریکا بودند، که بخاطر ترمپ معطل شد.

Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریــځ

### د ټاکنو کمېسیون پرېکړې، لانجې او د وضاحت اړتیا

د ټاکنو کمېسیون هغه پرېکړه لانجمنه شوې، چې له مخې یې غیر معیاري رایې له سره شمېري. دولت ساز ټیم د دغه کار ملاتړ کوي، خو د ثبات او همپالنې ټیم بیا وایي چې د بې برخلیکه رایو په تړاو له پرېکړې وروسته دې دا کار وشي. د ثبات او همپالنې ټیم وایي چې شاوخوا دری سوه زره باطلې رایې لا هم په سیستم کې دي او پکار ده چې د رایو له بیا شمېرنې وړاندې په دې تړاو پرېکړه وشي. د دې ټیم یوه استازي نورحمان اخلاقي پرون ویلي چې ځینې رایې زیاتې حساب شوې، ځینې د بایومټریک ستونزه لري، یا له وخته وړاندې کارول شوې، یا له وخته وروسته کارول شوې او یا یې هم عکس تکرار، یا له عکس څخه عکس اخیستل شوی چې باید باطلې اعلان شي. نوموړی وایي، په دې اړه د کمېسیون طرزالعمل واضح حکم لري او کمېسیون باید پرې سترګې پټې نه کړي.

کمېسیون ژمنه کړې چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې به د لړم په ۲۳مه اعلانوي، خو سر له اوسه ښکاري چې دا به ستونزمنه وي. د کمېسیون ځینې کارونه د لانجو سبب کېږي او ځینې مسایل داسې هم دي چې په اړه یې ډېر وضاحت نشته. آن په کمېسیون کې هم داخلي اختلافات دي او ځینې کمېشنران په واضح ډول متفاوتې خبرې او نیوکې کوي. د کمېسیون یو غړی مولانا عبدالله وایي، څو پوري چې د ۱۳۷۶۳۰ بې برخلیکه رایو په تړاو وروستۍ پرېکړه نه وي شوې، د رایو بیاشمېرنه امکان نه لري. هغه ویلي، د دې رایو د برخلیک په اړه لا هم کمېسیون پرېکړه نه ده کړې او له دې پرته د رایو بیاشمېرنې بهیر به ستونزې لا ډېرې کړي.

اوس پکار ده چې کمېسیون په دې تړاو خلکو ته واضح معلومات ورکړي. دغه ۳۰۰ زره رایې ولې بې برخلیکه دي؟ کمېسیون یې ولې په اړه اوس پرېکړه نه کوي؟ د دغو رایو برخلیک به څه کېږي؟ ولې د رایو بیاشمېرل تر دغه کار مخکې پیلېږي؟ د دغو بې برخلیکه رایو په اړه د درملوګ رپوټ څه دی او د کمېسیون قوانین او طرز العمل یې په اړه څه پرېکړه کوي؟ دا او دې ته ورته نورې مهمې او جدي پوښتنې دي چې کمېسیون یې باید ځواب کړي. خلک به په دې تړاو د کمېسیون له وضاحت وروسته پرېکړه وکړي، ځکه چې اوس په دې اړه معلومات نشته. کله چې د کمېسیون وضاحت راشي، نو بیا به خلک پرېکړه وکړي چې په دې تړاو د ټاکنیزو ډلو نظر او اندېښنې څومره پر ځای دي.

دویمه اندېښنه دا ده چې ویل کېږي چې په بیاشمېرنه کې به همغه مسوولین او سیمه ییز مامورین ښکېل وي، چې په سیمه کې یې پراخې درغلۍ کړې دي. دوی یا د دغو درغلیو برخه وو او یا یې هم ځان پرې غلی کړی و. له همدې امله دوی مسوول دي او باید تر عدلي تعقیب لاندې راشي. له بله اړخه یوازې دا مامورین نه، بلکې هغه ټیمونه، د هغوی مسوولین هم باید تر عدلي تعقیب لاندې راشي، چې درغلۍ یې کړې دي. دا هغه څه دي چې په قانون کې یې وړاندوینه شوې ده او کمېسیون باید په دې اړه خپل دریځ روښانه کړي.

په ټوله کې کمېسیون باید واضح او روڼ دریځ ولري. هر څه باید له خلکو سره شریک کړي، د خپلو قوانینو او طرز العملونو په رڼا کې پرېکړه وکړي. له دې پرته به د دوی پرېکړې ستونزې او بحران جوړ کړي او بیا به دوی مخامخ مسوول وي.

# ولسي لاریونونه؛ که د حق غوښتنې زنګونه

**لیکنه: امان الله تاند - د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز څېړونکی**

په معاصره نړۍ کې نړیوال د خپلو بنسټیزو حقونو تر لاسه کولو لپاره له ځینو لارو څخه کار اخلي، چې د هغې له جملې څخه لاریونونه هم په ګوته کولی شو. کله چې د یوې سیمې خلک خپلو لومړنیو حقونو او غوښتنو لکه امنیت، صحت، خوړو، تعلیم او... ته لاسرسی و نه لري، نو د اړوندو چارواکو پام یادو ستونزو ته راګرځوي. که چېرته چارواکي ورته بنسټیزې حللارې ولټوي، ښه تر ښه، که نه وګړي اړ کېږي څو د خپلو حقونو او غوښتنو تر لاسه کولو لپاره لاریونونه وکړي او هغه اړوند چارواکي چې کولی شي په اړوندو برخو کې اغېز ولري، دې ته اړ کړي څو یادو ستونزو ته حللارې ولټوي او یا استعفاوې وړاندې کړي. ځینې وخت لاریونونه کولی شي اړوند چارواکي دې ته اړ کړي څو د لاریون کوونکو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي، خو ځینې وخت بیا لاریون کوونکي د اړوندو چارواکو د منفي او یا کمزورو ځوابونو پر وړاندې خپلو لاریونونو ته ادامه ور کوي، چې ډېری وخت لاریونونه پر تاوتریخوالي هم اوړي او په ډېری ځایونو کې مرګ ژوبلې هم له ځان سره لري.

کله کله داسې هم کېږي، چې بهرني لاسونه او قوتونه د خپلو هغو لاسپوڅو په واسطه چې په ځینو سیمو کې یې ځای پر ځای کړي وي او هلته ولسي نفوذ لري، عام وګړي دې ته اړ کوي څو د هغو چارواکو پر ضد اقدام وکړي، چې د یادو بهرنیو قوتونو ګټې له خطر سره مخ کولی شي. دا کار زیاتره وخت په هغو سیمو کې سرته رسېږي، چې یا خو د طبیعي زېرمو له پلوه غني او شتمنې وي او یا یې جغرافیوي موقعیت داسې وي، چې د بهرنیو قوتونو اقتصادي او سیاسي ګټې پکې نغښتې وي او له هغوی څخه غواړي چې حریفان او سیالان یې له هغو سیمو څخه د دوی پر ضد کار واخلي. په همدې هڅو کې وي او د هغو سیمو د عامو وګړو ستونزې مخکې له مخکې تر ژورې مطالعې لاندې نیسي او په مناسب وخت کې د یو ځانګړې پلان او برنامې له مخې شته ستونزې د خپلو داخلي ملګرو په واسطه هلته د عامو وګړو په راپارولو او د لاریونونو په شکل رابرسېره کوي. لیدل کېږي چې په دغسې حالاتو کې ډېره ګټه اصل لوبغاړي (بهرنیان) تر لاسه کوي او د سیمې خلکو ته یوازې اوږدمهالې لانجې او ستونزې په میراث پاتې کېږي. په روان وخت کې د منځنۍ ختیځ (عراق، لبنان، سوریې) او همدارنګه د چین تر نیمه تسلط او اغیز لاندې هانکانګ کې له روانو لاریونونو څخه یادونه کولی شو. سوریه چې د تېلو زېرمو ظرفیت یې ۲.۵ بلیون بیلرو ته رسېږي، له ۲۰۱۱ ز کال راهیسې پر کورنۍ جګړه اخته ده او عامل یې په ښکاره او پټه بهرني لاسونه دي. د دې خبرې د رښتینولۍ لپاره د ټرمپ وروستۍ هغه څرګندونې ښې ثابتېدلی شي، چې ویلي یې وو، موږ په سوریه کې د تېلو خوندي کېدو لپاره پراته یو، نه د سوریې او ترکیې د سرحدونو د خوندي کېدو لپاره.... په عراق کې هم د وروستیو پراخو مرګونو لاریونونو لاملونه د هغو ستونزو له املې دي، چې د بهرنیانو له خوا منځ ته راغلي او عام وګړي یې د یو نامعلوم راتلونکي پر لور رهي کړي او نه پوهېږي چې کله به د ښې راتلونکې زېری اوري.

هغه سیمې چې غښتلې او ځواکمنې ادارې ولري، هلته د لاریونونو تر سره کول، د سیمو د لا پرمختګ لامل ګرځېدلی شي، ځکه اړوندې ادارې د لاریون کوونکو د قابو کولو لپاره ښې برنامې په مخکې لري او هغوی تاوتریخوالي ته نه پرېږدي. د سوله ییزو لاریونونو په هکله د عامه پوهاوي په برخه کې کار کوي او کوښښ کوي څو د لاریون کوونکو په منځ کې بهرني لاس کاري پر وخت په ګوته او پر وخت یې له منځه یوسي. هغه چارواکي چې په رښتیا په دندو کې پاتې راغلي وي، استعفا ته هڅوي. خو بلخوا هغه سیمې چې کمزورې ادارې ولري، هلته نه یوازې لاریونونه بدې پایلې مخې ته ږدي، بلکې بهرنیو لاسونو اوږدولو ته لا زمینه برابروي او بهرني لاسونه بیا هڅه کوي، څو لاریونونه لاپسې پراخ کړي او په دې توګه د سیمې کمزورې ادارې له منځه یوسي او پر ځای یې د خپلې خوښې ادارې منځ ته راوړي، څو پکې خپلې ګټې ښې او پر وخت لاسته راوړي.

د عامو وګړو او همدارنګه د بهرنیو قوتونو له خوا له پلي کېدونکو لاریونونو پرته، ډېری وخت د یوې سیمې نظامي غښتلې اداره هڅه کوي، څو په سیاسي ډلو بر لاسې واوسي او ډېری وخت کله د یوې او کله د بلې سیاسي ډلې په پټه ملاتړ کوي. هغه سیاسي ډله چې غواړي ولسي نفوذ زیات کړي او د نظامي ادارې پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، هغه د بلې سیالې سیاسي ډلې چې د نظامي ادارې په پټه پراخه ملاتړ ورسره وي، په واسطه له منځه وړي. نظامي اداره تل هڅه کوي چې سیاسي سیالې ډلې په یو ځانګړي بیلنس او توازن کې وساتي، څو خپله غښتلتیا او ځواکمنتیا پکې خوندي کړای شي.

کله یوه سیاسي ډله د واک له انحصاره لرې ساتي او کله بله هغه. د اړتیا پر وخت یوه د بلې پر وړاندې پراخه لاریونونو ته هڅوي، خو کله چې اړتیا پېښه شي او د سیاسي ګوندونو له نفوذ څخه وېره ولیدل شي، نو لاریونونه د سپیني کودتا په تر سره کولو سره پای مومي او بیاځلې نظامي اداره د خپلې ځواکمنتیا نور قدمونه پیلوي او په دې توګه ولسي لاریونونه تر خپلو اغېزو لاندې ساتي.

په پاکستان کې روان لاریونونه چې د جمعیت علما اسلام (ف) لخوا د اوسني حکومت چې د چارو واګې یې د پاکستان تحریک انصاف ګوند په لاس کې ده، پر ضد پیل شوي چې د اپوزیشن ګوندونو ملاتړ هم له ځان سره لري. دوی ادعاوې کوي چې اوسنی حکومت د نظامي ادارې له لوري منځ ته راغلی او د تېرو ټاکنو پر مهال د نظامي ادارو له پراخ ملاتړ څخه هم برخمن و. خو لیدل کېږي چې د جمعیت علما اسلام (ف) مشر مولانا فضل الرحمن لاریون کوونکو ته په خپلو خبرو کې ډېر محتاط وي، خو کله چې نظامي اداره (فوځ) پرې تبصره کوي، نوموړی هڅه کوي چې په یو ډول نه یو ډول نظامي اداره خپلو دندو ته متوجه کړي او نه غواړي له یادې ادارې سره ځان په ټکر کې واچوي. ښایي نوموړی یې له پایلو وړاندې خبر اوسي، دا چې زرګونه تنه لاریون کوونکي اسلام آباد ته د پاکستان له مختلفو برخو راغونډېږي او اړوندې ادارې هڅه کوي څو لاریون کوونکي پر وخت مهار کړي، دا نه یوازې د یادو ادارو پر ځواکمنتیا دلالت کوي، بلکې هلته د سیاسي ډلو په پختګۍ هم دلالت کوي، ځکه کله چې د لاریون نېټه راورسېده، له کراچۍ څخه لاهور ته تلونکي ریل ګاډي پېښه منځ ته راغله، د پېښې له قربانیانو سره د غم شریکۍ په پار یې لاریون یوه ورځ وځنډاوه، له هغې وړاندې د کشمیر له خلکو سره د یووالي په اړه هم لاریون ځنډولی شوی و.

څېړنې ښیي چې سوله ییز لاریونونه د غیر سوله ییزو هغو په پرتله کولی شي لاندې پایلې ولري:

مثبت حل: که چېرته د یوې سیمې خلک د یو جابر او ظالم حکمران تر سلطې لاندې هم وي او خلک یې پر ضد سوله ییز لاریونونه تر سره کول غواړي، نو دا پر دې دلالت کوي چې د جابر حکمران ټغر په ټولېدو دی او قدرت لا د خلکو په لاس کې دی.

په سوله ییزو لاریونونو کې د عامو خلکو ونډه د غیر سوله ییزو لاریونونو په پرتله یوولس سلنه زیاته وي.

له ۱۹۰۰ ز کال راهیسې تر ۲۰۱۵ ز کال پورې سوله ییز لاریونونه ۵۱ سلنه او غیر سوله ییز لاریونونه ۲۷ سلنه د کامیابۍ خوا ته تللي دي.

سوله ییزو لاریونونه د غیر سوله ییزو هغو په پرتله د مرګ ژوبلې کمه کچه او یا د نشت برابر خطر لرلی شي او اکثره د وخت جابر او ظالم نظامونه د واک مودې غځولو په خاطر کوښښ کوي، څو لاریونونه غیر سوله ییز کړي، لکه په مصر کې د اخوان المسلمین غړي چې آن د لمانځه ادا کولو پر مهال په ګولیو وویشتل شول. جابر نظام کوښښ کاوه، څو لاریون کوونکي غیر سوله ییزو لاریونونو ته اړ کړي، خو سربېره پر دې چې لاریون کوونکي له مرګ ژوبلې سره مخ شول، بیا یې هم د سوله ییزو لاریونونو له لارې د خپلو غوښتنو تر لاسه کول غوښتل.

د نظم له له پلوه سوله ییز لاریونونه د غیر سوله ییزو هغو په پرتله ښه وي او وروستۍ بېلګې یې د مصر اخوان المسلمین او ترکیې لاریونونه ښودلی شو، چې نړیوال یې ګوته په غاښ او حیران کړل. له دې سربېره، د ۲۰۱۸ ز کال په اګست میاشت کې ۱۵ کلنې سویډنۍ ګریټا تنبرګ (Greta Thunberg) د سویډن پارلمان ودانۍ مخې ته د هرې جمعې ورځې د لاریون په خاطر کېناسته، څو د اقلیمي بدلون په اړه د چارواکو پاملرنه جلب کړي. نوموړې له حکومت څخه غوښتل چې د کاربن استعمال کم کړي، یوه میاشت وروسته په سویډن کې تر عامو ټولټاکنو یوه ورځ مخکې نوموړې سویډنۍ اعلان وکړ، چې د هرې جمعې په ورځ به خپل لاریون ته دوام ورکوي، تر دې چې اړوند چارواکي د اقلیمي بدلون په اړه لازم ګامونه پورته کړي. د هغې شعار و (جمعه د بدلون لپاره.) دا دی یو کال وروسته د ګریټا د ابتکار په وجه په لکونو زده کوونکي د نړۍ په مختلفو برخو کې د اقلیمي بدلون لپاره په مختلفو شکلونو لاریونونه کوي او د نړۍ د مشرانو پام یادې ستونزې ته راګرځوي.

**افغانستان او لاریونونه**

دا چې د افغانستان اکثریت خلک مسلمانان دي، نو په همدې بنسټ اکثره تر سره شوي لاریونونه هغه وخت تر سره شوي، کله چې د وخت چارواکو پرېکړې له مذهب سره په ټکر کې واقع شوې، چې په وروستیو سلو کلونو کې یې ښې بېلګې موندلی شو. غازي امان الله خان چې د نویو اصلاحاتو پلي کولو ته متې رابډوهلې، د وخت دیني علماوو له سخت مخالفت سره مخ شو او د نوموړي پر خلاف ولسي لاریونونه مخې ته راغلل، موږ یې دلته په علتونو لیکل نه کوو، ځکه هر څه جوت دي، مګر یوازې د لاریونونو په نظم او پایلو غواړو خبرې وکړو، تر دې چې د غازي امان الله خان پاچاهي یې ورختمه کړه. له هغې وروسته د وخت کمونېست رژیم او لاسپوڅو پر ضد د کابل پوهنتون ځوانانو په ګډون، ځینو خلکو لاریونونو ته مخه کړه چې اکثره لاریونونه خونړي واقع شوي.

د هېواد وروستیو ناوړه حالتو ته په کتو، اکثره لاریونونه د ځینو ځانګړو ډلو له لوري د مشخصو ګټو پر بنا تر سره کېږي او ډېری وخت د لاریون ګډونوال پر دې نه پوهېږي، چې د څه لپاره راغونډ شوي او دا د دې ښکارندویي کوي چې هېوادوال د خپلو حقونو او غوښتنو لپاره د لاریونونو د تر سره کېدو پر ګټه او قوانینو نه پوهېږي.


همدا لامل دی چې سوله ییز او ټول منلي او پراخه لاریونونه چې د هېواد د اړینو پېښو په اړه تر سره شي، نه تر سترګو کېږي. په هېواد کې د امنیت نشتون، بې کاري، د پلازمینې په ګډون د هېواد په ډېرو برخو کې د عامو خلکو د لوټلو پېښو تر څنګ، ځینې نورې ستونزې هم شته چې کېدلی شوای هېوادوالو د منظمو او سوله ییزو لاریونونو په واسطه حللارې ورته موندلې وی، خو ګورو چې ډېری وخت د هېواد په یوه سیمه کې لس ګونه کسان د هوایي یا ځمکنیو بمباریو په ترخ کې ووژل شي، غله یې ولوټي او آن تر دې چې ځینې هغو ته د ژوند پر بیه هم تمام شي. بې کاري د هېواد ډېری ځوانان چور، چپاول، بهرنیو هېوادونو ته تللو او پر نشه یي توکو اخته کېدو ته اړ باسي، خو د یادو اړینو ستونزو په اړه هېواد شموله لاریونونه په هغه ډول تر سره نه شول، چې یادو ستونزو ته یې یوه سلنه حللاره هم لټولې اوسي.

**د اقلیمي بدلون په پار په کابل کې د زده کوونکو لاریون**

مدني ټولنې، د چاپي او الکترونیکي رسنیو فعالان او په ټوله کې هغه کسان چې د سوله ییزو لاریونونو په اړه پراخ او ژور معلومات لري، کولی شي د لاریونونو په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره کار وکړي. د نورې نړۍ او په ځانګړې توګه د سیمې هېوادونو هغو سوله ییزو لاریونونو په اړه خلکو ته معلومات ورکړي، کومو چې مثبتې پایلې ورکړې دي. دا کار کولی شي د هغو یادو شویو ستونزو په برخه کې اغېزمن واقع شي، چې هېوادوال ورسره مخ دي او د هېواد د پرمختګ مخه یې ډب کړې ده. که افغان ولس غواړي چې ستونزو ته یې دایمي حل پیدا شي، باید له سوله ییزو لاریونونو څخه کار واخلي، د لاریون تر سره کېدو وړاندې باید د لاریون پر نظم کار وکړي او لاریون کوونکي پرې نږدي څو عامه لارې د خلکو پر وړاندې وتړي، عامه منفعت ته زیان واړوي، چور چپاول تر سره کړي او د ګټې پر ځای د هېواد په زیان نور ناوړه حرکتونه تر سره کړي.

# د اختلافاتو دوام؛

## د کمېشنرانو ترمنځ د رایو پر بیاشمېرنه اختلافات موجود دي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون کې د نورو ناندریو تر څنګ، تازه د رایو د بیاشمېرنې پر سر هم ناندرۍ را ولاړې شوې دي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه ډله کمېشنران وایي چې د رایو بیاشمېرنه به نن چهارشنبه په ۳۴ ولایتونو کې پیلېږي، خو یوه ډله بیا وایي چې نه د بې برخلیکه رایو په اړه تر وروستۍ پرېکړې پورې باید بیاشمېرنه پیل نه شي.
سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره دوشنبه د رایو د بیاشمېرنې لپاره ټاکلې وه، خو د ستونزو له امله دغه لړۍ پیل نه شوه. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تېره ورځ وویل، چې ولایتونو ته د ناظرینو او ټاکنیزو کارکوونکو د نه رسېدو له امله په دې پروسه کې ځنډ رامنځ ته شوی دی او ښايي نن چهارشنبه د رایو بیاشمېرنه پیل شي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون کمېشنر مولانا عبدالله بیا وایي، تر هغه پورې چې د بې برخلیکه رایو په اړه پرېکړه نه وي شوې، د رایو بیاشمېرنه امکان نه لري. مولانا عبدالله وایي: ((ترڅو پورې چې د هغو ۱۳۷۶۳۰ بې برخلیکه رایو په تړاو وروستۍ پرېکړه نه وي شوې، د رایو بیاشمېرنه امکان نه لري. د دې رایو د برخلیک په اړه لا هم کمېسیون پرېکړه نه ده کړې او له دې پرته د رایو بیاشمېرنې بهیر به ستونزې لا ډېرې کړي)).
نوموړي نه یوازې دا چې د رایو بیاشمېرنه ناممکنه ګڼلې، بلکې په خپلو خبرو کې یې ویلي چې د کمېسیون ځینې هغه غړي چې په درغلیو کې لاس لري، باید لویې څارنوالۍ ته ور وپېژندل شي او سزا ورکړل شي.
بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، په ۳۴ ولایتونو کې به د ځینو محلونو د رایو بیاشمېرنه سر له نن چهارشنبې پیل شي.
د دغه کمېسیون د معلوماتو له مخې، تمه وه چې پرون سه شنبه په ۳۴ ولایتونو کې د ځینو محلونو د رایو بیاشمېرنه پیل شوې وای، خو د کمېسیون یوې کمېشنرې رحیمې ظریفي وویل، د ځینو دلایلو په ځانګړې ډول ولایتونو ته د کمېسیون د پلاوي د نه رسېدو له امله، کېدای شي د رایو د بیاشمېرنې بهیر نن چهارشنبه پیل شي. نوموړې وایي: ((۹۵ سلنه امکان شته چې د رایو بیاشمېرل نن پیل شي. اړتیا وه چې ځینې پرېکړې د رایو د بیاشمېرنې په بهیر کې د دقت لپاره وشي چې په دې اړه موږ نږدې لس پرېکړې وکړې)).
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له دې وړاندې اعلان کړی و چې د نږدې ۱۸۴۴ محلونو رایې باید له سره وشمېرل شي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون کمېشنره رحیمه ظریفي وایي، د ۱۸۰۰ محلونو د رایو د بیاشمېرنې بهیر به نږدې درې ورځې وخت ونیسي.
خو د ټاکنو ځینې څارونکي بنسټونه بیا له یوې ورځې بلې ته د رایو د بیاشمېرنې بهیر ځنډېدل، د سیاسي فشار پایله بولي. د افغانستان د روڼو ټاکنو د بنسټ یا ټیفا وياند زبیر حبیب زاده وایي، که دا بهیر نور هم وځنډول شي، د ټاکنو بې پرېوالی به تر پوښتنې لاندې راشي.
زبیر زیاتوي: ((دا بحث پر کمېسیون د سیاسي فشارونو پایله ده، کمېسیون باید خپله خپلواکي وساتي، د کمېسیون له خوا د هر ډول سیاسي فشار منل ټاکنې تر پوښتنې لاندې راولي)).
د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا د فشار موجودیت ردوي او وایي، دوی په پوره بې پرېوالي او خپلواکه توګه خپلې چارې پر مخ وړي او خپلو اصولو ته ژمن دي.
د افغانستان د روڼو ټاکنو بنسټ د سیاسي فشارونو د څرنګوالي په اړه څه نه وایي، خو له دې وړاندې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې ویلي، د ټولو رایو د تصفیې تر پای پورې باید د رایو بیاشمېرنې بهیر وځنډول شي.

## څارونکي بنسټونه: پر ټاکنو کمېسیون د سیاسي فشار له کبله د رایو بیاشمېرنه ځنډېږي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، په ۳۴ ولایتونو کې به د ځینو محلونو د رایو بیاشمېرنه نن پیل شي.
د دغه کمېسیون د معلوماتو له مخې، تمه وه چې تېره ورځ په ۳۴ ولایتونو کې د ځینو محلونو د رایو بیاشمېرنه پیل شي، خو د کمېسیون یوې کمېشنرې رحیمې ظریفي ازادي راډیو ته ویلي، د ځینو دلایلو او په ځانګړې ډول ولایتونو ته د کمېسیون د پلاوي د نه رسېدو له امله به د رایو د بیاشمېرنې بهیر نن پیل شي.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون له دې وړاندې اعلان کړی و چې د نږدې ۱۸۴۴ محلونو رایې باید له سره وشمېرل شي.
د دغه کمېسیون کمېشنرې رحیمې ظریفي ویلي، د ۱۸۰۰ محلونو د رایو د بیاشمېرنې بهیر به نږدې درې ورځې وخت ونیسي.
خو پر ټاکنو څارونکي بنسټونه بیا ورځ تر بلې د رایو د بیاشمېرنې بهیر ځنډېدل، د سیاسي فشار پایله بولي.
د افغانستان د روڼو ټاکنو د بنسټ یا ټیفا وياند زبیر حبیب‌زاده ازادي راډیو ته ویلي، که دا بهیر نور هم وځنډول شي، د ټاکنو بې پرېوالی به تر پوښتنې لاندې راولي.
هغه ویلي: «دا بحث پر کمېسیون د سیاسي فشارونو پایله ده، کمېسیون باید خپله خپلواکي وساتي، د کمېسیون لخوا د هر ډول سیاسي فشار منل ټاکنې تر پوښتنې لاندې راولي».
که څه هم د افغانستان د روڼو ټاکنو بنسټ د سیاسي فشارونو د څرنګوالي په اړه څه نه دي ویلي، خو له دې وړاندې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې ویلي، د ټولو رایو د تصفیې تر پای پورې باید د رایو بیاشمېرنې بهیر وځنډول شي.
خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ځلونو د سیاسي فشارونو موضوع رد کړې ده.

## ارګ: د چین په بین الافغاني ناسته کې د ګډونوالو نوملړ نهايي کېدو ته نږدې دی



ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي، د چین په بین الافغاني ناسته کې برخه اخلي او د ناستې د ګډونوالو نوملړ د نهایي کېدو په درشل کې دی.
د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند مرستیال دواخان مینه پال ازادي راډیو ته ویلي، د حکومت له خوا په جوړېدونکي نوملړ کې حکومتي استازي، د ملي شورا غړي، مدني فعالان او د ګوندونو استازي شامل دي او د استازو دغه نوملړ به ټولشموله وي.
هغه زیاته کړې: «د ګډونوالو لېست تقریباً د بشپړېدو په حال کې دی، دا لېست به ډېر جامع وي او ټولو ته به د منلو وړ وي. په دې کې به د حکومت، سیاسي احزابو، مدني ټولنو او ملي شورا استازي برخه ولري. د ګډونوالو د شمېر په اړه به وروسته معلومات شریک کړو».
که څه هم د چین بین الافغاني ناستې نېټه لا معلومه نه ده، خو د افغانستان د ملي امنیت سلاکار تر دې وړاندې ویلي وو چې د جمهوري ریاست د ټاکنو د پایلو تر اعلان وروسته به جوړه شي.
افغان حکومت داسې مهال د چین بین الافغاني ناستې د ګډونوالو د نوملړ جوړېدو خبره کوي، چې وړمه ورځ ولسمشر غني هم د دغې ناستې په اړه د چین د بهرنیو چارو له وزیر سره ټلیفوني خبرې کړې دي.
له ارګه په خپره شوه خبرپاڼه کې راغلي چې وانګ یي ولسمشر غني ته د غونډې په تړاو معلومات ورکړي او دواړو لوریو ټینګار کړی چې د افغان سولې په بهیر کې باید د دغه هېواد حکومت او خلک بنسټیز رول ولري.
په ورته وخت کې طالبانو هم منلې چې په دغه ناسته کې به د دوی استازي هم برخه واخلي، خو ټینګار یې کړی چې د افغانستان دولتي استازي به د افرادو په توګه په ناسته کې ګډون کوي او نظرونه به یې شخصي وي.
که څه هم معلومه نه ده چې د افغان سولې په تړاو د چین د دې ناستې اجنډا به څه وي، خو د ځینو سرچینو له قوله ویل شوي چې دا ناسته د سولې له پخوانیو ناستو جلا یاده شوې ده.
ټاکل شوې وه چې د افغان سولې په اړه دا ناسته د تېرې میلادي اکتوبر میاشتې په ۲۹مه او ۳۰مه وشي، خو د نامعلومو دلایلو له امله تر نامعلومې نېټې وځنډېده.

# په عراق کې د تاوتریخوالي په دوام؛

## پولیسو په لومړي ځل په بغداد کې پر لاریون کوونکو ډزې کړې دي



د عراق پولیسو په لومړي ځل په بغداد کې پر لاریونوالو ډزې کړې دي.
دا په داسې حال کې ده چې په عراق کې له تېرو څو اونیو راهیسې روان اعتراضونه اوس ډېر کړکېچن پړاو ته رسېدلي دي، خو دا لومړی ځل دی چې حکومتي ځواکونه په پلازمېنه بغداد کې پر لاریونوالو ډزې کوي.
حکومتي ځواکونو هڅه کوله چې د قهرجنو لاریونوالو د پرمختګ مخه ونیسي، خو پر دې چاره کې بریالي نه شول او لاریون پر تاوتریخوالي اوښتی دی.
یوازې تېره ورځ په بغداد کې د پولیسو په ډزو کې ۱۲ لاریون کوونکو ته مرګ ژوبله اوښتې او ویل کېږي چې دا لومړی ځل و چې پولیسو په پلازمېنه عراق کې پر لاریونوالو ډزې کړې دي.
د راپورونو له مخې، پر بغداد سربېره د عراق په نورو ښارونو کې هم د حکومت پر ضد پراخ لاریونونه دوام لري.
د عراق د بشري حقونو کمېسیون وړمه ورځ راپور ورکړ چې په کربلا ښار کې د ایران کونسلګرۍ مخته څلور تنه وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان دي.
تر دې وړاندې لاریون کوونکو د عراق په چارو کې د لاسوهنې له کبله په کربلا کې د دغه هېواد پر کونسلګرۍ برید وکړ او د هغه هېواد بیرغ یې له ودانۍ څخه لرې کړ.
د محمد په نوم یوه عراقي اعتراض کوونکي رسنیو ته ویلي: «موږ ځوانان یو، غواړو دا هېواد ورغوو، بې‌عدالتي بس ده. د ایران د سپاه قدس د قوماندان قاسم سلیماني لاسوهنه نوره بس ده. عراق د هغه په کنټرول کې دی. زموږ یو روحاني کس چې نه غواړم نوم یې واخلم وایي، دا ټول تاوتریخوالی دی، موږ زور زیاتی نه کوو، سوله ییز مخ ته ځو».
بلخوا د عراق لومړي وزیر عادل عبدالمهدي په خپل تازه بیان کې له اعتراض کوونکو غوښتي چې بېرته عادي ژوند پیل کړي؛ ځکه چې د هغه په خبره، د دې وضعیت دوام عراق ته میلیاردونه ډالره اقتصادي زیان رسوي.
د مهدي په خبره، د عراق د تېلو تاسیساتو ته د ورغلو لارو بندول او هم د دغه هېواد د ملي ګټو پر وړاندې ګواښ رامنځته کول، ټولو خلکو ته زیان رسوي او هېڅوک به ګټه ونه کړي.
د راپورونو له مخې، په دغو اعتراضونو کې چې د اکتوبر له ۲۴مې پیل شوي، تر اوسه څه باندې ۲۵۰ کسان وژل شوي او په زرګونو نور ټپیان شوي دي. لاریون کوونکي وایي، عراق له نفتو ډک دی، خو اداري فساد، بې‌کاري او د ژوند لومړنیو خدماتو ته نه لاسرسي دوی ستړي کړي دي.
دوی دغه راز خبرداری ورکړی چې خپلو لاریونونو ته به تر هغې دوام ورکړي، څو یې چې ټولې غوښتنې نه وي منل شوې.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې



مولن د خپلې دندې پر مهال د پاکستان د پوځ له مشـر اشفاق کیاني سره ملگرتیا پیل کړې وه چې په دې توگه د نوموړي همکاري جلب کړي، خو هغه د پاکستان پر چارو ډېرې نیوکې هم کولې. مولن په خپلو خبرو کې د پاکستاني سیاستوالو او شنونکو غبر بدرگه کاوه، هغه وویل: ((د پاکستان حکومت به فکر کوي چې د نیابتي جگړهییزو ډلو پر پاللو سره به سیمه ییز قدرت شي، خو پاکستان له وړاندې دا لوبه بایللې. د تاوتریخوالي په صادرولو سره هغوی خپل کورنی امنیت او په سیمه ییزه کچه خپل حیثیت تر پوښتنې لاندې راوستی دی. په نړیواله کچه یې خپل حیثیت ته پام نه دی کړی، اقتصاد یې هم ورځ تر بلې په خرابېدو دی. د پاکستان د ښې راتلونکې لپاره یوه لاره شته، هغه دا ده چې له دې ډول تگلارو لاس واخلي.))

مولن په زغرده ویل چې ISI په افغانستان کې له امریکایي ځواکونو سره پر جگړه بوخت و. هغه د سنا مجلس د وسله والو خدمتونو کمېټې ته وویل چې د حقاني شبکې د پاکستان د ISI د یوې څانگې په توگه فعالیت کاوه. ادعا یې وکړه چې د پاکستان د ISI په لارښوونه او ملاتړ حقاني شبکې د ۲۰۱۱ز کال د سپټمبر پر ۱۳مه، کابل کې د امریکایانو پر نظامي اډه برید وکړ او پر ۱۰م د سپټمبر یې په وردگو ولایت کې د ناټو ځواکونو پر نظامي اډه برید وکړ. په دواړو بریدونو کې ۲۱ افغان پولیس او ملکي وگړي ووژل شول او ۷۷ د ائتلافي ځواکونو سرتېرې پکې ژوبل شول چې دا د تېرو لسو کلونو د هرې ورځې په تناسب لوړ تلفات وو.

د مولن تر څرگندونو وړاندې پر پاکستان نظامي مرستې ځنډول شوې وې. د مولن له څرگندونو سره شنونکو له پاکستاني پوځ سره د اړیکو نوې لارې وړاندیز کړې. د سي ای اې پخواني کارکوونکي، بروس رایډل د نیویارک ټایمز په یوه لیکنه کې لیکلي وو: ((اوس د دې وخت را رسېدلی چې د گوانښونو پر وړاندې د مبارزې تگلاره خپله کړو، په دې مانا چې باید د مخالفت اړیکو ته ور و دانگو، خو دا مخالفت باید دقیق وي، موږ باید پاکستانیانو ته زیان و نه رسوو، بلکې له پوځ او څارگرو څخه باید حساب وغواړو، که موږ پوه شو چې د ISI کوم افسر له ترهگرۍ سره مرسته کوي، یا دا کار په افغانستان او هند کې ترسره کوي، موږ به یې د غوښتل شوو کسانو په تور لېست کې شامل کړو، د ملگرو ملتونو له لوري به هم پرې بندیز ولگوو او که ډېر خطرناک و باید ونیول شي.))

منصور عجاز چې په اصل کې پاکستانی دی، خو امریکایي تابعیت هم لري او هلته په پانگوالۍ بوخت دی په خپله یوه لیکنه د پوځ ضد دریځ کې لیکي: ((ISI افراطیت ترویجوي او ملاتړ یې کوي چې د بهرني سیاست پر وړاندې یې گواښونه پېښ کړي. اوس هغه وخت راغلی چې امریکا خپل سیاسي او مالي همکارۍ پر پاکستان په ټپه ودروي، ځکه پاکستان کې هماغه همکارۍ یوه اداره د هغه ترهگرۍ په ملاتړ او ترویج کې لگوي چې نړیواله ټولنه ورسره پر جگړه بوخته ده. ډېرو جدي تگلارو ته اړتیا ده چې د پاکستاني دولت پر وجود د سرطان پرته دانه (ISI) له منځه وباسي. د دې وخت را رسېدلی چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان ISI د ترهگرو د ملاتړ کوونکي سازمان په توگه وپېژني.))


خو واشنگټن هېڅکله دومره جدي چلند نه دی کړی. واشنگټن د ۲۰۱۲ز کال په جولای کې له اسلاماباد څخه تر هغه وروسته بښنه وغوښته چې د افغانستان پولې نژدې د ۲۰۱۱ز کال په نوومبر کې د امریکا په هوایي برید کې ۲۴ پاکستاني سرتېری ووژل شول. پاکستان د بښنې په بدل کې د پاکستان له لارې افغانستان ته د ناټو د اکمالاتو لاره بیا پرانیسته. امریکا لا هم په پاکستان کې د ترهگرو پر موجودیت خپل خپگان او په قبایلي سیمو کې د بې پیلوټه الوتکو بریدونو ته دوام ورکړ.

د ۲۰۱۲ز کال په جنوري کې مې یو ځل بیا له افراسیاب خټک سره وکتل. نوموړی ډېر بوخت و. پر یوه وخت یې دوه دندې سرته رسولې، نوموړی د خیبر پښتونخوا ولایتي مشـر و، په عیني وخت کې یې د سناتور په توگه هم دنده ترسره کوله، ځکه نو مجبور و چې کله په پېښور او کله بیا اسلاماباد کې و اوسي. هغه دا مهال باید له خپل امنیت سره هم ډېر پام کړی وای، ځکه طالبانو غوښتل ویې وژني. ماته فرصت برابر شو چې له هغه سره په موټر کې پېښور ته سفر وکړم.

خټک په حکومت کې د خپل کار په اړه راته وویل، هغه پوهېده چې د افغانستان او پاکستان د پښتنو په سیمو کې افراطیت د پښتنو هویت په پان اسلامېزم بدلاوه. نوموړی سولې ته ژمن و. راته ویې ویل، له ۲۰۰۸ز کال څخه چې نېشنل عوامي گوند واک ته رسېدلی قرباني یې ورکړې دي او دا قرباني یې بې ځایه نه ځي. خټک په دې اند و چې د پاکستان د خلکو په فکرونو کې د افراطیت پر وړاندې کرکه پیدا شوې وه. هغه هیله من ښکارېده، ویل یې، څنگه چې پښتنو لویو قدرتونو ته ماتې ورکړې، افراطیت ته به هم ماته ورکوي. نوموړي زیاته کړه، د حکومت دا کار چې د افراطیانو پر مټ په پښتني سیمو کې خپلو ستراتیژیکو موخو ته ځان رسوي، یوه ورځ پوهېږي چې له دې لارې موخو ته نشي رسېدلای. هغه راته وویل: ((موږ د دې هېواد لپاره د اوزون د طبقې په څېر یو. موږ دا هېواد له ډېرو گواښونو ساتو. زموږ قرباني به د گواښونو مخه ډب کړي.)) **دوام لري...**

# د مخ پر ودې هېوادونو سیاست

◀ اکسوس کتابپلورنځی



د مخ پر ودې هېوادونو سیاست له څلورو برخو تشکیل شوی دی، لومړۍ برخه یې تحلیلي لیدلوری او نړیوال شرایط او دغه راز د زمینو په اړه بحث کوي. له همدې کبله د کتاب په سر کې ځای پر ځای شوې ده. د دې برخې موخه دا ده چې تاسې ته د عمومي نطري لیدلوریو لپاره یوه سریزه وړاندې کړي. دا لیدلوري د مخ پر ودې نړۍ د سیاست پېژندنې لپاره بدیلې لارې وړاندې کوي. دغه لیدلوری د واقعیت د ساده کولو تر څنگ، موږ ته د دې شونتیا برابروي چې د معلوماتو پراخه ټولگه تنظیم کړو، نو له همدې کبله زموږ د مطالعاتو د تگلورې په پیدا کولو کې ډېر گټور دی. همدارنگه دغه لیدلوري داسې عدسیه یا عدسیې زموږ په واک کې راکوي، چې پر مټ یې کولای شو تجربې او اطلاعات تفسیر کړو. بالاخره بایو ووایو چې د نظر ورکړه یوازې د پدیدو د روښانه کولو لپاره نه ده، بلکې دا کار د اټکل لپاره یوه پیلامه ده. د پدیدو د اټکل لپاره د ټولنیزو علومو ادعاوې ډېرې د پام وړ او ډاډمنې نه دي او همدا حکم د سیاست د علم په اړه هم مطرح کولای شو. له دې ټولو سره سره دغه کتاب د دې په لټه کې دی، چې د مخ پر ودې نړۍ هېوادونو موجوده وضعیت، د هغو تېرو تجربو ته په کتو و ارزوي او هغه عمده سیاسي ابهامات وپېژني، چې په راتلونکې کې ورسره مخ دي.

دغه کتاب نړیوالې فضا او زمینې ته ځانگړی پام کوي. نن ورځ دغه باور چې انسانان د بل هر وخت په پرتله له یو بل سر ډېرې او ژورې اړیکې لري، پر یو مهم واقعیت بدل شوی دی. خو پام مو وي چې دا اړیکې د انسانانو د نړدېوالۍ په مانا نه دي. د کتاب په بېلابېلو څپرکو مختلف لیدلوري وړاندې شوي دي، له دغو لیدلوریو هر یو یې کولای شي په مناسبو شرایطو کې معقول او ارزښتناک څه وړاندې کړي. د دې ترڅنگ چې د دغو لیدلوریو کارونه به د بېلابېلو هېوادونو د شرایطو د درک لپاره په مختلفو تاریخي دورو کې گټور وي، لوستونکي باید په دې اړه خپل قضاوت هم ولري، چې د دې نظریاتو له ډلې کوم یو یې د مشخصو مسایلو او مشکلاتو د پېژندنې لپاره ډېر ښه پوهاوی وړاندې کوي او یا دا چې د هغوی له ډلې کوم یو یې د مخ پر ودې نړۍ هېوادونو د سیاست د ټولیزو شرایطو په پېژندنه کې گټور دی.

د کتاب دویمه او درېیمه برخه د مخ پر ودې هېوادونو په دننه کې د عمده ټولنیزو فکټورونو په اړه د دولت بدلېدونکي شرایط، رول او ذات تشریح کړي. دا دوې برخې په واقعیت کې د یو بلې هېنداري دي. دواړې برخې دا څېړې چې سیاست څه ډول له تولیزو شرایطو او اړخونو اغېزمنېږي او څه ډول پر هغوی اغېز ښیندي.

د کتاب څلورمه برخه عمده عملي مسئلې څېړي، چې لږ تر لږه ټول مخ پر ودې هېوادونه له هغوی سره مخ دي. په ټولیز ډول دا مسایل یوازې د مخ پر ودې نړۍ له هېوادونو سره تړاو نه لري؛ مگر کولای شو ووایو چې په یاده نړۍ کې ځانگړی انعکاس لري. دا مسایل د ودې په تړاو د خبرو اترو په یوه لویه حوزه کې ځای خپلوي. په دې توگه د کتاب یاده برخه مشخصوي چې دغو مسایلو ولې او څرنگه ښکاره سیاسي ذات پیدا کړی دی.

یاد کتاب پیټر برنل او ویکي رنډال لیکلی، پښتو ژباړه یې احسان الله ځیرک کړې، چې همدا پښتو بڼه یې په ۳۸۴ مخونو کې راټوله شوې ده.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.


## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د مخ پرودې هېوادونو سیاست | احسان الله ځیرک | ۳۵۰ؒ |
| ۲ | د ترکیبي افعالو قاموس | میرویس غورځنگ | ۲۵۰ؒ |
| ۳ | فرهنگ اوزبیکی دری | رحیم ابراهیم | ٤۰۰ؒ |
| ٤ | د اساسی حقوقو عمومي اصول | پوهنوال بشارت شینواری | ۲۲۰ؒ |
| ٥ | MODEL BUSINESS LETTERS EMAILS ADN OTHER BUSINESS DOCUMENTS 7TH | shirley taylor | ۳٥۰ؒ |
| ٦ | د لویو قتدرتونو بهرنی سیاست | دوکتور بهاره سازمند | ۲٥۰ؒ |
| ۷ | شرح کود جزا | قانون پوه محمد اشرف رسولی | ٦٥۰ؒ |
| ۸ | راز لکنت زبان | کامبخش فرهمند پور | ۲۰۰ؒ |
| ۹ | The Flea Palace | Elif Shafak | ۳۰۰ؒ |
| ۱۰ | Black Milk on motherhood and Writing | | ۱۷۰ؒ |
| ۱۱ | The Forty Rules Of Love | | ۲۲۰ؒ |
| ۱۲ | The Architect's apprentice | | ۲۷۰ؒ |
| ۱۳ | After You | Jojo Moyes | ۳۰۰ؒ |
| ١٤ | Still Me | | ۲۷۰ؒ |
| ١٥ | Paris For one | | ۲٥۰ؒ |
| ١٦ | Me Before You | | ۲۲۰ؒ |
| ۱۷ | Foreign Fruit | | ۳۰۰ؒ |
| ۱۸ | The Girl You Left | | ۳۰۰ؒ |
| ۱۹ | زما ژوند د هوا په سترېو څپوکې | ډگر جنرال قهرمان<br>عبدالوهاب وردگ پیلوت | ۱۰۰ؒ |
| ۲۰ | فراتر از راز (قدرت معنوی و قانون جذب) | دکتر لیزا لاو | ۱۰۰ؒ |
| ۲۱ | تنها نکته ای که لازم است بندانید | گیتی شهیدی | ۲۳۰ؒ |
| ۲۲ | جغرافیای اقتصادی قاره ی آسیا | پوهاند میرهارون احمدی | ۲٥۰ؒ |
| ۲۳ | جغرافیای افغانستان و فرصت های ثروت سازی | محمد عظیم عظیمی | ۳٥۰ؒ |
| ۲٤ | حرامسری قذافی | آنیک کوژان | ۲٥۰ؒ |
| ۲٥ | مقدمه ای برنگهداری حیوانات مالداری در افغانستان | داکتر عبدالقادر سمسور | ۳۰۰ؒ |
| ۲٦ | د جزا کود تحلیل(عمومي برخه له ۲۳٦-۱مادو پورې) | پوهاند احمد گل واثق دورانی | ۲۰۰ؒ |
| ۲۷ | تهیه او تدارکات د تدارکاتو قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۳۰ؒ |
| ۲۸ | A sixteen hour day | Mustafa satari | ۲٥۰ؒ |
| ۲۹ | القلوب الضارعه (قلب های نیایشگر) | محمد فتح الله گولن | ۳۰۰ؒ |
| ۳۰ | داستان جهاد افغانستان | کرنل امام | ۱۰۰ؒ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۰ |
| € | ۸٦,۸۰ |
| Rp. | ٤۹٥ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# له نورو څخه دا تمې مه کوئ!

ژباړه: عطا محمد میاخېل

له نورو څخه تمه لرل د دې سبب کېږي، چې تل مشخصې پایلې وغواړی، له دې امله د نویو فرصتونو لپاره ډېر کم وخت پاتې کېږي. که تل له نورو څخه تمه ولری، نو طبیعي ده چې په پرله پسې توګه له ناهیلۍ سره لاس و ګرېوان یاست، ځکه ډېر کم داسې پېښېږي، چې دا تمې مو پوره شي. موږ ټول پوهېږو چې نه شو کولای د ژوند ټولې چارې کنټرول کړو او دا تمه ولرو چې ټول زموږ له غوښتنې سره سم چلند وکړي.

په پام کې ولرئ، څه به پېښ شي، که زده کړی چې له نورو څخه تمه ونه لرو او په ژوند کې به مو کوم مثبت او په زړه پورې بدلونونه رامنځته شي.

**له نورو دا تمه مه کوئ چې تاسو ته وياړ او اعتبار درکړي**

ستاسو ارزښت او اعتبار ستاسو په دننه کې دی، نور انسانان خپل ژوند لري او په خپله ډېر مسوولیتونه او اړتیاوې لري، ستاسو په څېر بوختیاوې لري، ستاسو شاوخوا خلک پر دې مکلف نه دي، چې ستاسو ارزښت او اعتبار تایید کړي. هغه څه چې وایي او هغه کار چې تر سره کوي یې، یوازې د خپلو نظریاتو انعکاس یې دی او نباید د هغوی او د خپلو غوښتنو ترمنځ تېروتنه وکړئ، تاسو هم په خپلو چلندونو او کړنو سره خپل ځان ته اعتبار ورکړئ او دې په تمه مه پاتې کېږئ، چې نور د خپلو غوښتنو پر بنسټ تاسو ته امتیاز او ارزښت درکړي.

**له نورو دا تمه مه کوئ چې هغوی تاسې وهڅوي او ومو ستايي**

ښايي تاسو وستایل شی او یاهم ونه ستایل شی، نه شی کولای چې خپل ځان د نورو له هڅونو سره وتړی، که کوم ښه کار تر سره کړی او د نورو له خوا ستایلو ته په تمه پاتې شی، نو خپل ځان به له ناهیلۍ سره مخ کړی، نو د نورو له خوا د خپل ځان د ستایلو او هڅولو لپاره کوم کار مه تر سره کوئ؛ بلکې یوازې د خپل زړه د غوښتنې پر بنسټ کار وکړئ، څو ښه احساس ولری او له ځور او کړاو سره مخ نه شی.

کوم کار چې ستاسو له غوښتنې او باور سره همغږی وي، نو تاسو به خوشاله او راضي کړي، حتی که یو کس هم تاسو ونه ستایي، په خپله د خپل ځان هڅوونکي واوسئ، کله چې کوم ګام په سمه توګه پورته کوی، نو له خپلې مخې څخه خندونه لرې کوی یا پر نورو باندې مهرباني کوی، خپل ځان په خپله وهڅوئ او ویې ستایئ.

مهمه نه ده چې نور څه څیزونه ویني او ورته پام کوي، هغه څه چې ډېر زیات ارزښت لري، دا دي چې تاسو د خپل ځان په اړه څه فکر کوی، له خپل ځان سره هوکړه وکړئ چې له خپل ځان سره مثبتې خبرې اترې ولری او له دې لارې خپل ځان ته اعتبار ورکړئ.

**له نورو دا تمه مه کوئ چې هغوی تاسو ته انګېزه درکړي**

هېڅوک نه شي کولای چې ستاسو په څېر، تاسو ته انګېزه درکړي. د بېلګې په توګه، یو دوست مو کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي، کله چې بې حوصلې او ناهیلي یاست، له خپله ځایه پورته شئ او یو ځل بیا یې پیل کړئ، دا ستونزې او سختۍ نه شي کولای چې د ژوند له خونده مو محروم کړي، دا ستاسو مسوولیت دی چې موخه وټاکئ او هغې ته د رسېدو لپاره، له لوړو او ژورو څخه تېر شی.

دا تمه هېڅ وخت مه کوئ چې یو بل شخص تاسو ته د انګېزې درکولو لپاره خپل وخت او انرژي مصرف کړي، اړتیا نشته چې موخه مو ډېره ستره وي، خو هرڅه چې ده، باید تاسو ته پرمختګ در په برخه کړي او پر ارزښتونو باندې مو یو ارزښت ور زیات کړي.

که کومه ستره موخه لری، نو هغه پر کوچنیو او د لاسرسي وړ موخو باندې ووېشئ، په یوه ګوښه کې ناستې او د نورو له خوا د انګېزې د تر لاسه کولو لپاره په تمه پاتې کېدل، تاسو به د میدان بایلونکي کړي. داسې یوه انګېزه په پام کې ونیسئ، چې تاسو له لټۍ او سستۍ څخه بهر کړي او دې ته مو اړ کړي چې د عمل میدان ته ور ودانګی.

**دا تمه مه کوئ چې نور تاسو درک کړي**

هېڅوک اړ نه دي چې خپل ځان ستاسو پر ځای مېشت کړي، ستاسو شرایط درک کړي، یا ستاسو خبرو او د زړه خواله ته غوږ ونیسي. دا مه هېروئ چې د دې ټولو انسانانو ترمنځ، چې د ځمکې پرمخ ژوند کوي، داسې دوه کسان به پیدا نه کړی چې ژوند ته په یوه نظر وګوري او یو شان باورونه ولري، نو دا تمه مه کوئ چې نور پر دې باندې پوه شي، چې ستاسو په ذهن او زړه کې څه تېرېږي.

دا سمه ده چې موږ داسې کسان پېژنو، چې له موږ سره ډېر زیات فکري ورته والی لري او موږ درک کوي، خو دا پېښه نباید پر تمې باندې بدله شي. دا ومنئ چې طبیعي ده، کله کله موږ نه شو کولای چې داسې کوم څوک پیدا کړو، چې موږ درک کړي او پوه شي. هڅه مه کوئ چې خپل افکار او باورونه پر نورو باندې ومنئ، اجازه ورکړئ چې هغوی خپل ژوند او د فکر بڼه ولري.

**هېڅکله دا تمه مه کوئ چې نور ستاسو د خوښۍ سبب شي**

یوازې تاسو یاست چې کولای شی د خپل ژوند فرصتونه پیدا کړی او په خپلو اړیکو کې د سمو او مثبتو انسانانو پر لور جذب شی. که مو کوم دوست یا ملګري تل له هغو څیزونو او نیمګړتیاوو څخه شکایت کاوه چې نه یې لري او ستاسو حالت خرابوي، دا تاسو یاست چې کولای شی له هغه سره کمې اړیکې ولری.

نړۍ له داسې انسانانو څخه ډکه ده، چې تل شکایتونه کوي، دا تاسو یاست چې باید تصمیم ونیسئ، له منفي کسانو سره ډېر وخت تېر کړی او یا هم له خوشبینو کسانو سره. د فکر بڼه مو په خپل لاس کې ده او هېڅوک نه شي کولای، دې ته مو اړ کړي چې ښېګڼې ووینی یا بد ګړې.

**له نورو د خوشاله او راضي کېدو تمه مه کوئ**

که هڅه وکړی چې د داسې یو کس په لټه کې واوسی، چې تاسو ته له ژوند څخه خوښي او رضایت در په برخه کړي، نو پر دې باندې پوه شی چې هڅه مو بې ګټې ده، هېڅ دا تمه مه کوئ چې یو بل کس دې ستاسو د خوښې پر ټولو معیارونو باندې برابر وي او له ژونده دې ستاسو د خوښۍ او خوشالۍ سبب شي. دا تاسو یاست چې له خپل ژوند څخه د خوښۍ او رضایت اسباب برابروی.

دا چې بریالي شوی، د نورو له تمې څخه لاس واخلئ، دې ته مو پام کېږي چې په سمه توګه له نورو سره د اړیکې ټینګښت څومره آسانه او خوندور دی او یوه دوه اړخیزه اړیکه چې د تمې پر بنسټ نه وي ولاړه، څنګه کولای شي چې راضي مو کړي.

لومړی خپله ستونزه له خپل ځان سره مشخصه کړئ او وګورئ چې کومې ورتیاوې، کومې بوختیاوې او کوم تخنیکونه تاسو له خپل ژوند څخه راضي کوي. له دې وروسته له نورو سره له کومې تمې پرته د اړیکې د ټینګښت په لټه کې شئ.

**دا تمه له یاده وباسئ چې نور تاسو ته خوند در په برخه کړي**

نور به په بشپړ، موقتي او لنډ ډول کولای شي ستاسو په خوښۍ او خوشالۍ کې رول ولري. هېڅوک نه شي کولای چې تاسو دې ته اړ کړي، چې خوشاله واوسی او وخاندی؛ مګر هغه وخت کولای شی کله چې خپله وغواړی. خوند هغه څه دی، چې ستاسو له دننه څخه سر چینه اخلي، په ژوند کې واړه او غټ څیزونه شته، یوازې باید خپلې سترګې پرانیزئ او په ښه توګه یې ووینئ.

که تل دې ته په تمه پاتې شی چې کوم څوک پیدا شي او تاسو ته خوند او خوشالي درکړي، نو ستړي او نا هیلي به شی، ځکه هر انسان د خپلې خوشالۍ مسوول دی. هغه کسان چې دې ته په تمه دي، چې نور یې د خوښۍ او خوشالۍ سبب شي، معمولاً سخت ګیر دي او د خوشاله کېدو لپاره د لویو لاملونو په لټه کې دي، دا ځکه چې دوی په خپله دې سترو موخو ته په رسېدو کې ناکام دي، نو له همدې امله نورو ته په تمه دي.

**له نورو د حللارې په نښه کولو تمه مه کوئ**

موږ ټول ستونزې لرو، نور کولای شي چې له موږ سره مرسته وکړي، څو په آسانه توګه بالقوه د حل لارو ته ورسېږو، خو دا د نورو دنده نه ده چې زموږ ستونزې حل کړي. که ستاسو د ژوند په دننه کې ستونزې وي، نو دا په تاسو پورې تړاو لري او له تاسو پرته هېڅوک یې باید د حل کولو په لټه کې ونه اوسي.

دا سمه ده چې ځینې وخت له نورو څخه مرسته او نظر وغواړو، خو له خپل ځان سره رښتیني واوسئ؛ څو ځله له دې سره مخامخ شوي یاست، د حل هغه لاره چې یو بل کس تاسو ته وړاندیز کړې ده، پرته له کومې خبرې مو عملي کړې ده؟ یوازې هغه کسان چې خوښېږي یې کمزوري او قرباني ښکاره شي او د نورو پام ور واړوي او پرې رحم وشي، په دې تمه دي چې نورو یې وژغوري.

هغه کس چې نورمال او پیاوړی دی، پر دې باندې پوهېږي چې د ژغورنې لار یې له خپل ځان سره ده او نور یوازې د لارښوونې او مشورې په برید کې کولای شي، چې ورسره مرسته وکړي.

**له نورو د خپل فکر لوستو تمه مه کوئ**

زموږ په شاوخوا کې داسې کسان شته، چې زموږ په کوچنۍ اشارې سره زموږ پر حالت، وضعیت او هغه څه چې په خپل سر کې یې لرو، پوهېږي؛ خو ډېری هغه کسان چې له هغوی سره سرو کار لرو، واقعاً نه شي کولای چې زموږ ذهن ولولي. ښايي تاسو د نورو پر نسبت ډېر حساس وی او د هغوی د حالاتو او چلندونو له مخې پر کوم څه باندې پوه شی، خو نباید دا تمه له نورو څخه ولری چې هغوی درته اغېزمنه اړیکه، د درک کیلۍ او د واټنونو را کمول جوړ تیار په لاس درکړي.

پر ځای د دې چې تمه ولری، پوه شي چې څه احساس لری، خپل احساس پر خپله خوله راوړی او خبرې وکړئ.

دا تمه مه لرئ چې نور له تاسو سره هغه ډول چلند وکړي، لکه څنګه چې تاسو یې له هغوی سره کوی. هرومرو به مو دا اورېدلي وي چې وایي، له نورو سره هغه ډول چلند وکړئ څنګه چې مو له ځان سره د هغه کول خوښېږي. په ډاډ سره ویلی شم چې تصور کوی، ټول باید د همدې سپارښتنې پر بنسټ مخته لاړ شي، خو واقعاً دا ډول نه دي، ټول خلک پر دې سپارښتنه باندې عمل نه کوي.

ډېری وخت باید دا حقیقت ومنی چې ډېری کسان له موږ سره ښه چلند نه کوي او له موږ سره مناسبه اړیکه نه ټینګوي، په دې وخت کې غوره ده چې تاسو خپل ځان د دې افرادو پر ځای فرض کړئ او د هغوی د لید له زاویې څخه پېښې ته وګورئ او د همغږۍ او درک په احساس سره غبرګون ښکاره کړئ.

دا د اندېښنې او ځور پر وړاندې له خپل ځان څخه د ساتنې تر ټولو غوره لاره ده، چې له تاسو سره مرسته کوي، که کوم چا له تاسو سره بد چلند وکړ، ډېر کم خپه او اندېښمن شئ.

**له هېچا څخه دا تمه مه کوئ، چې هغوی دې پر یوه حال پاتې شي**

پرته له شکه، د وخت په تېرېدو سره په انسانانو کې بدلون راځي او تاسو خپله هم د هغوی یوه برخه یاست. دا بدلونونه ډېری وخت د ژوند پر شرایطو او دغه راز په هغو تجربو پورې تړاو لري، چې تر شا یې پرېږدو.

ډېری کسان په ژوند کې له ډېرو ننګونو سره مخ دي او هېڅوک نه شي کولای تر هغې پورې یې درک کړي، څو چې د هغوی پر ځای نه وي مېشت شوي. نو پر ځای د دې چې پر دې انسانانو باندې قضاوت وکړی، درک یې کړی او سخت ګیري پرې وکړی؛ ښه ده چې له حالاتو او د هغوی د عمر له کچې او چاپېریال سره سمه له هغه د درک ګیله ولری. که واقعاً ورسره مینه لری او په هر ډول شرایطو کې خپله مینه له هغوی څخه قربانوی، نو هغوی تر پوښتنې لاندې مه راولئ.



مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د نومبر شپږمه | ۴۵۸مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۱۵ | ۱۷ | ۱۱ | ۲۰ | ۱۹ |
| ۱۳ | -۱ | ۲ | ۲ | ۱۰ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۲ | لمر ختل ۰۶:۱۶ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:۳۶ | ماښام ۰۴:۵۸ | ماخوستن ۰۶:۲۳

## نړۍ




## امریکا تازه د ایران پر نهو لوړپوړو چارواکو بندیزونه لگولي دي



د امریکا متحده ایالتونو په یوه تازه اقدام کې پر نهو ایرانیانو چې د دغه هېواد له مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌يي سره اړیکې لري، بندیزونه لگولي دي.

د امریکا د خزانې وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې په دغو نهو کسانو کې د ایران د پوځ لوی درستیز او د هغه یو زوی او دغه راز د ایران د قضایه قوې مشر هم شامل دی.


د امریکا د خزانې وزیر ستیفن منوچن ویلي، هغه کسان چې پر خامنه‌يي راټول دي او د هغه بې‌ثباتوونکې پالیسۍ تعقیبوي، د بندیزونو په نوملړ کې شامل شوي دي.

نوموړي ویلي چې دغه بندیزونه په تهران کې د امریکا پر سفارت د یرغل او اشغال د ۴۰مې کلیزې په مناسبت لگول شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ۱۹۷۹ ز کال د نومبر په څلورمه په ایران کې د امریکا متحده ایالتونو سفارت ته یوه ډله قهرجن اعتراض کوونکي ورننوتل او تر ۵۰ ډېر امریکایان یې برمته کړل.

د یادونې ده چې د امریکا دغه اقدام داسې مهال دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینگلې شوې دي. امریکا تېر کال د ایران او د نړۍ د شپږو پیاوړو هېوادونو ترمنځ له هغه تړونه ووته، چې د متحده ایالتونو د پخواني ولسمشر بارک اوباما د ادارې له خوا د ایران د اټومي فعالیتونو د محدودېدو لپاره لاسلیک شوی و.

## راپورونه: ترکیې د داعش د وژل شوي مشر ابوبکر البغدادي خور نیولې ده



د ترکیې حکومتي چارواکو ویلي، د اسلامي دولت یا داعش ډلې د پخواني وژل شوي مشر ابوبکر البغدادي مشره خور یې د سوریې په شمال- ختیځ کې د ترکیې تر ولکې لاندې عزاز ښار کې نیولې ده.

روېټرز او اسوشیېټېډ پرېس خبري اژانسونو د یوه جگپوړي ترکي مقام په حواله راپور ورکړی، چې د بغدادي ٦٥ کلنه خور رسمیه عواد، د هغې مېړه او نږور له پنځو ماشومانو سره په داسې حال کې نیول شوي، چې په یوه ټرېلر کې استوگن وو.

د بغدادي د خور په اړه ډېر معلومات نشته؛ ځکه هغه دومره مشهوره نه وه، خو ترکي چارواکو ویلي چې ښایي مهم استخباراتي معلومات ترې تر لاسه شي.

هغه ترکي چارواکي چې غربي خبري اژانسونو ته یې د بغدادي د خور نیول کېدل تایید کړي، د بغدادي د خور نیول یې د سرو زرو د یوه کان د موندلو په څېر مهم پرمختگ بللی او هیله یې څرگنده کړې چې له نوموړې څخه به د داعش ډلې د فعالیتونو د څرنگوالي په اړه خورا زیات استخباراتي معلومات تر لاسه کړي.

په ورته وخت کې د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان د اړیکو د چارو مشر فخرالدین التون د بغدادي د خور عواد نیول ستایلي او هغه یې د تروریزم پر وړاندې د خپلو عملیاتو لپاره د بریالیتوب یو بل مثال بللی دی.

د یادونې ده چې بغدادي له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې د داعش ډلې مشر و او نوموړی د اکتوبر په ۲٦مه د سوریې په شمال- ختیځ ولایت ادلیب کې د امریکا د ځانگړو ځواکونو په عملیاتو کې ووژل شو.

## طاهری: خط آهن هرات- خواف تا شش ماه آینده تکمیل می شود



مسؤلان دفتر پروژۀ خط آهن هرات- خواف، از عدم تکمیل ده درصد باقی ماندۀ این خط خبر می دهند.

ذبیح الله طاهری مسؤل دفتر راه آهن هرات- خواف، به پژواک گفته است که ۹۰ درصد خط آهن هرات- خواف، تکمیل شده است و قرار بود که تا ماه اسد امسال، ده درصد باقی ماندۀ آن نیز تکمیل گردد.

به گفتۀ موصوف؛ اما بنا به دلایل امنیتی، روند کار ساخت این پروژه از ۲۹ ثور امسال تاکنون متوقف شده است.

به گفتۀ طاهری، پس از تلاش های مقام های حکومتی با جانب ایران، به تازه گی روند انتقال تجهیزات مورد نیاز برای زیر ساخت های این بخش، از ایران به هرات شروع شده است.

وی افزوده است که انتقال این تجهیزات تا یک ماه آینده ادامه خواهد داشت و پس از تکمیل انتقال آن ها، عملاً کار این پروژه آغاز خواهد شد .

او گفته است: «بخاطر مشکلات امنیتی که پیش آمد و اکنون فصل زمستان فرار رسیده است، ممکن است تا ٦ ماه دیگر ۱۰ درصد باقی مانده قطعه سوم خط آهن تکمیل شود».

همچنان امین الله آزادانی رئیس ارتباط خارجه هرات، کندی کار ساخت خط آهن هرات - خواف را تائید کرده و گفته است که آنان تلاش می کنند تا عوامل کندی کار این بخش خط آهن را جستجو کنند.

در همین حال جیلانی فرهاد سخنگوی والی هرات، به پژواک گفته است که چالش های امنیتی در برابر پروژه خط آهن هرات– خواف، در نشست شورای نظامی این ولایت مورد بررسی قرار گرفت و راه حل هایی نیز جستجو شد.

وی افزوده است که اکنون هیچ چالش امنیتی در برابر ساختن بخش سوم خط آهن هرات– خواف وجود ندارد.

## ژوند

## ایا ډېر خواږه هم بډوډو ته زیان رسوي؟



ټولو ته جوته ده چې سیگرېټ څکول زړه، سږو او په ټوله کې د انسان روغتیا ته زیان رسوي، خو ایا پر دې هم پوهېدی چې بډوډو ته هم زیان رسوي؟ هغه کسان چې سیگرېټ څکوي، د ادرار له لارې یې په زیاته کچه پروټین له بدن څخه خارجېږي چې دغه څه بیا په خپل وار سره بډوډو ته زیان رسوي.

خواږه د چاغوالي اصلي لامل دي چې د وینې فشار لوړوي او د شکرې ناروغۍ لامل هم کېږي. د وینې لوړ فشار او د شکرې ناروغي بیا د بډوډو ناروغۍ ته په اسانۍ سره لار هواروي. پر دې سربېره، اوس ځینې داسې خواږه او څښاک جوړ شوي چې خوند یې ډېر خوږ نه دی، خو د خوږو کچه پکې دومره لوړه وي چې تصور یې نه کېږي. د دې خوږو او څښاک کارول هم پر بډوډو ناوړه اغېز کوي، ځکه ډېر خواږه د وینې لوړ فشار او د بډوډو ناروغۍ ته لاره هواروي. نو د تیارو شویو خوړو له خوړلو مخکې د هغوی لومړني مواد هرو مرو وگورئ، که یې خواږه له کچې زیات وي، له خوړلو یې ډډه وکړئ.

## څنگه چې یاستی، هغسې خپل ځان ومنئ




څو کاله مخکې مې یوې غونډې ته خبرې کولې، په غونډه کې څو تنه زما هم مسلکي هم وو. غونډې هم د پوښتنې او ځواب برخه درلوده. یو کس چې زما هم مسلکی و پورته شو، خورا وېرونکې څېره یې درلوده. دوه متره اوږد و او ۱۴۰ کیلوگرامه وزن یې درلود. زه ۱۷۰ سانتي متره ونه لرم. په ټلوېزیون کې معمولاً سړي تر هغه غټ ښکاري چې وي. هغه زما کوچنیوالي ته حیران و. په ځای کې ودرېد او ویې ویل: غواړم پوه شم چې تاسې څو کیلو یاست؟

ورته مې وویل:

٦۰ کیلو یم، خو خالصه اوسپنه.

تاسې باید پر هغه څه ویاړ او شکر وکړئ چې خدای پاک درکړي دي. ستاسې ونه نه ډېره جگه ده او نه هم ډېره ټیټه، بیخي مناسبه ده، مناسبه ورتیا لری، ملیت مو هم مناسب دی. تاسې د خدای پاک په خوښه او امر جوړ شوي او تاسې یې خوښ کړي یی. اوږې مو وخوځوئ، سر مو لوړ ونیسئ او استوار گامونه واخلئ. تاسې هېڅ عیب نه لری، نه هم بېوزله یاست. تاسې همدا اوس دقیقاً ټول هغه څه لری چې ورته اړتیا مو ده.